AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۹/۰۲

# ستړی روح

هر شیبه د درسـت عــالم غـمونه خورمه
په اندیښــنو کـې، خـپل عمر تـیرومـه

دې غـدی کې ، نا کـــراره ژوند د لاســه
ستړی روح مې ، په کالبُد کې ګـرځــومه

په دې لارو او کــوڅــو ، د انتـحار کې
زه قطرې قطرې ، بدن راټــولـومــه

د دراتګ غــــم چې مې ، ونه کړې مرګیه
زه په خپله خـوښه ، ســتا لور ته درځمه

عاجزی اوښکي مې راغلي ، تر ګــریوانه
په خپل اوښکو مې ، پرهــــر د زړه ګنډمه

چې د درد په ویـــنا ، زړونه یې دردیږي
ځـم هــغو ته ، خــپلي اوښـکي تــویومه

چې ګــوهر د معــرفت ، دلــته پیدا کړم
سمــندر کـــې د معنی ، غـوپی وهمـــه

معرفت د ورشـــو باز وم ، حقیــقت کې
خـو د زړه په ســـــترګو ، چا ونه لیدمه

د پاڅون چې یوه ځرک یې وي ضـمیر کې
داسـي خــلـک له غــفلته ، ویــــښومه

د وطــن فراق اوړي ، زمـا درني کـړی
چې کلـــونه د بیـــلتون ، بارونه ورمــه

که هر څو له هرې خوا ، تیارې خورې دي
دا تـــیارې ، په معـــرفت رابد لومــه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ